شتمني
SHTAMANI
اوونیزه
تأسیس: ۱۳۹۴ل ل
زموږ مالیه، زموږ هیواد، زموږ راتلونکی
د افغانستان اسلامي امارت
د مالیې وزارت

**د رسول الله ﷺ تولنيز آداب**

ژباړه: رسول الله ﷺ هیڅکله نه خادم وهلی او نه ښځه.

**آداب رسول الله ﷺ**

ترجمه: رسول الله ﷺ هیچ گاهی به خادم و به زن صدمه وارد نه نموده است.

(د مالیې وزارت د دعوت او ارشاد ریاست، له لوري)

ربيع الثاني ۵-۱٤٤٧ل س | د تلي ۵-۱٤۰٤ل ل | د سیپټمبر ۲۷-۲۰۲۵ز | پنځم کال | ۱۵۰ گڼه | ٤ مخیزه



## سرمقاله

### تغییرات در بازارهای جهانی و پیامدهای آن

در ماه‌های اخیر، بازارهای جهانی شاهد تغییرات بی‌سابقه و پرنوسان بوده اند؛ تغییراتی که ناشی از ترکیب عوامل ژوپولیتیک، بحران‌های انرژی، سیاست‌های پولی بانک‌های مرکزی و تحولات تکنالوژیکی است. این تغییرات نه تنها اقتصادهای بزرگ، بلکه کشورهای در حال توسعه را نیز به شدت تحت تأثیر قرار داده است. عوامل چون جنگ‌ها و تنش‌های سیاسی در خاورمیانه و شرق اروپا موجب کاهش عرضه و افزایش قیمت نفت خام شده است. افزایش قیمت انرژی، مستقیماً به تورم جهانی دامن زده و قیمت های تولید را بالا برده است. در مقابل، برخی کشورها با سرمایه گذاری بیشتر بر انرژی‌های تجدید پذیر در تلاش اند تا وابستگی خود را کاهش دهند. طلا و فلزات نیز میتواند در اثر مهم پنداشته شود چون ناامنی‌های سیاسی و بی‌اعتمادی به بازارهای مالی، باعث افزایش تقاضا برای طلا به عنوان «پناهگاه امن سرمایه» شده است. هرچند در کوتاه‌مدت قیمت طلا با تغییرات شدید مواجه بوده، اما در دراز مدت روندی صعودی را نشان می‌دهد. این امر نشان‌دهنده نگرانی سرمایه‌گذاران نسبت به آینده نظام مالی بین‌المللی است. اینکه بازارهای اسهام بزرگ جهان مانند بعضی کشورها در ماه‌های اخیر سقوط ناگهانی و رشدهای مقطعی را تجربه کرده‌اند. دلیل اصلی این وضعیت، سیاست‌های متغییر نرخ سود در اروپا است. کاهش نرخ سود سبب هجوم سرمایه به بازار سهام شده، در حالی‌که افزایش آن بار دیگر سرمایه‌گذاران را محتاط ساخته است.

باید گفت که کشورهای در حال توسعه، به‌ویژه افغانستان، به شدت از این تغییرات متأثر می‌شوند. افزایش قیمت انرژی و اموال وارداتی فشار زیادی بر مصرف‌کنندگان وارد کرده و از سوی دیگر بی‌ثباتی نرخ پول، برنامه‌ریزی‌های اقتصادی را دشوار ساخته است. در عین حال، فرصت‌هایی مانند جذب سرمایه‌گذاری در معادن و انرژی‌های تجدید پذیر نیز می‌تواند به کاهش وابستگی کمک کند، که خوشبخاته پول ملی (افغانی) در رده پول با ارزش در منتطقه شناخته میشود و همچنان بر جذب سرمایه گذاری بر معادن کشور و همچنان تولید انرژی نیز کار قابل ملاحظه صورت گرفته است که از عنوان جذب سرمایه گذاری با بعضی شرکت ها را به عنوان مثال مطرح کرده میتوانیم.

**با احترام**

**اداره**

## په روان کال کې له هیواد څخه د صادراتو او ټرانزیټ په کچه کې د پام وړ زیاتوالی راغلی دئ



د مالیې وزارت له لوري د هیواد په گمرکونو کې د رامنځته سویو اسانتیاوو له کبله د روان (۱۴۰۴هـ.ل) کال په لومړیو پنځو میاشتو کې د هیواد له گمرکونو څخه د صادراتو او بهرني ټرانزیټ په کچه کې د پروسږکال همدې مودې په پرتله د پام وړ زیاتوالی راغلی دئ. د پروسږ(۱۴۰۳هـ.ل) کال په پنځو میاشتو کې (۴۳زره او۱۱۵) محمولې صادرات سوي دي، چې د روان (۱۴۰۴هـ.ل) کال په لومړیو پنځو میاشتو کې بیا (۴۸ زره او۹۲۸) محمولې دي، چې له مخې ئې د پروسږکال په پرتله د صادراتو په کچه کې (۱۳،۵) سلنه زیاتوالی معلومېږي. همداراز د بهرني ټرانزیټ په برخه کې د روان (۱۴۰۴هـ.ل) کال په لومړیو پنځو میاشتو کې له هیواد څخه (۱۳ زره او ۱۹۸) محمولې ټرانزیټ سوی دئ، چې د پروسږکال په پنځو میاشتو کې بیا دا شمېر (۱۰ زره او۶۰۱) محمولو ته رسېږي، چې د بهرني ټرانزیټ په کچه کې هم د پروسږکال په پرتله (۲۴،۵) سلنه زیاتوالی راغلی دئ. د یادولو ده، چې په زیاته کچه صادرات پاکستان، هندوستان، قزاقستان، متحده عربي امارات، ازبکستان او ترکیې هیوادونو ته سوي دي او له هیواد څخه ترسره سوی ټرانزیټ بیا پاکستان، ازبکستان، ترکمنستان، تاجکستان او ایران هیوادونو ته سوی دئ.

## د روان کال د زمري په میاشت کې د هیواد گمرکي چارو (۱۳) سلنه پرمختگ کړی دئ

د مالیې وزارت د گمرکونو لوی رئیس مولوي محمد حامد احمد په مشرۍ د روان (۱۴۰۴هـ.ل) کال د زمري په میاشت کې په گمرکونو کې د ترسره سویو چارو د تخنیکي ارزوني ناسته پر لیکه او حضوري بڼه وسوه. په دغه ناسته کې د روان (۱۴۰۴هـ.ل) کال د زمري په میاشت کې په گمرکونو کې د تر سره سویو فعالیتونو ټولیز راپور وړاندي سو. په یاده موده کې د عوایدو د راټولېدو، د هیواد په گمرکونو کې د ترسره سوي سوداگرۍ، د وارداتي توکو د گمرکي ارزښت او د سوداگریزو محمولو د شمېر او ثبت سوي وزن په اړه بشپړ معلومات وړاندي سول، چې له مخې ئې د پروسږکال همدې مودې په پرتله، د گمرکونو چارې (۱۲،۸) سلنه مثبتې وښودل سوې. همدارنگه د چارو د لا پرمختگ په موخه د ولایتي گمرکونو د مسئولینو ستونزې او وړاندیزونه واورېدل سول، چې د رهبرۍ له لوري د ستونزو د حل ډاډ ورکړل سو.



## د مالیې وزارت او خصوصي سکټور گډې کمیټې د ستونزو د حل په موخه ناسته وکړه




د گمرکونو او عوایدو معین الحاج مفتي عبدالمتین سعید په مشرۍ د مالیې وزارت او خصوصي سکټور گډي کمېټې د استازو ترمنځ د ستونزو د حل په موخه ناسته د یاد معینیت د غونډو په تالار کې وسوه. په دې ناسته کې د سوداگرۍ او پانگوني، د کانونو او صنایع، د افغانستان او پاکستان د گډې سوداگرۍ او پانگوني او د هټیوالو او کسبگرو د خونو استازو، د گمرکونو او عوایدو لویو رئیسانو او نورو مسئولینو گډون کړی وو. د ناستي په پیل کې ښاغلي سعید ټینگار وکړ، چې مسئولیت ستر امانت دئ او باید په اهلیت ترسره سي. نوموړي وویل، مسئولین باید د ولس خدمت خپله اصلي موخه وبولي او هیڅکله د ستړیا احساس ونه کړي. هغه د یادو خونو له استازو څخه وغوښتل، چې خپلي ستونزي د ژر حل کېدو په موخه نېغ په نېغه له موږ سره شریکي کړي. ښاغلي سعید د دواړو لوریو ترمنځ پر گډې همغږۍ او لازمي همکارۍ ټینگار وکړ. ور پسې په بېلابېلو برخو کې د یادو څلور واړو خونو پر سته ستونزو او حل لارو هر اړخیز بحث او لازمي پرېکړي وسوې. همداشان د گمرکونو او عوایدو د لویو ریاستونو له لوري د گمرکي طی مراحلو او د مالیې د ورکړي په برخو کې د یو شمېر ستونزو یادونه وسوه، چې د خصوصي سکټور د استازو له لوري د هر اړخیزي همکارۍ ډاډ ورکړل سو. د یادوني وړ ده، چې یادي ناستي د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه الله) د حکم له مخي د مالیې وزارت او د خصوصي سکټور ترمنځ د ستونزو د حل په موخه ترسره کېږي.



**د آقینې په گمرک کې د شاوخوا (۷۳) میلیونه افغانیو په ارزښت ستري پروژې بشپړېدونکي دي**

م ۲



**د مالیې او کورنیو چارو وزارتونو د کورنۍ پلټنې لویو رئیسانو د خپلمنځي همغږۍ په موخه سره کتلي**

م ۲




**په تېرو دوو اوونیو کې د هیواد په بېلابېلو ولایتونو کې زیاته اندازه قاچاقي توکي نیول سوي دي**

م ۲



**د گمرکونو لوی ریاست اداري ناسته وسوه**

م ۲



**Excerpt from Toward True AGI — the Future of the Global Economy and Humanity with Super intelligence**

م ۳



**تُرکمنستان او افغانستان د سوداگرۍ د نویو فرصتونو په تلاښ کې دي**

م ٤

## د آقینې په ګمرک کې د شاوخوا (۷۳) میلیونه افغانیو په ارزښت ستري پروژې بشپړېدونکې دي

د مالیې وزارت د ګمرکونو لوی ریاست، چې د شاوخوا (۷۳،۴) میلیونه افغانیو په ارزښت د فاریاب ولایت د آقینې په ګمرک کې د چاپېره دېوال او ټاورونو، د ارشیف ودانۍ او د درې بابه استوګنیزو کورونو د جوړولو پروژې پیل کړې وې، بشپړېدو ته نږدې او چارې ئې (۹۰) سلنه مخته تللې دي.

د یادو پروژو په پلي کېدو سره به د سوداګریزو توکو او ګمرکي سندونو د خوندي ساتلو ترڅنګ سوداګرو، موټر چلوونکو او د ګمرک کارکوونکو ته په بېلابېلو برخو کې ګڼې اسانتیاوې رامنځته سي. د دغو پروژو مالي لګښت د مالیې وزارت له پراختیایي بودیجې څخه ورکول کېږي او پاتې چارې به ئې هم ژر پای ته ورسېږي.



## د مالیې او کورنیو چارو وزارتونو د کورنۍ پلټنې لویو رئیسانو د خپلمنځي همغږۍ په موخه سره کتلي

د کورنیو چارو وزارت د کورنۍ پلټنې لوی ریاست په غوښتنه د ښې همغږۍ، تجربو شریکولو او د دوامداره مسلکي او کاري همکاریو د رامنځته کولو په موخه د مالیې او کورنیو چارو وزارتونو د کورنۍ پلټنې لویو ریاستونو ترمنځ د مالیې وزارت د کورنۍ پلټنې لوی رئیس الحاج ملا عبدالهادي ابرار او د دې ریاست اړوندو رئیسانو او د کورنیو چارو وزارت د کورنۍ پلټنې لوی رئیس پاسوال مفتي محمد سالم عبرت په ګډه مشرۍ او د دغه ریاست د رئیسانو په ګډون لومړنۍ ناسته د ملي بودیجې لوی ریاست په کنفرانس خونه کې وسوه.

په دې ناسته کې د کورنیو چارو وزارت د کورنۍ پلټنې لوی ریاست پلاوي د یو شمېر دوه اړخیزه موضوعاتو د بحث ترڅنګ د مالیې وزارت د کورنۍ پلټنې له لوی ریاست څخه وغوښتل، چې د کارکوونکو د مسلکي روزنې او ظرفیت لوړونې په برخه او همدارنګه د چارو د اصلاح په موخه د کورنیو چارو وزارت د کورنۍ پلټنې لوی ریاست سره هراړخیزه همکاري وکړي.

د یادې ناستې په پای کې پرېکړه وسوه، چې راتلونکې غونډه به د کورنیو چارو، مالیې او ملي دفاع وزارتونو د کورنۍ پلټنې مسئولینو ترمنځ وسي او د کاري کمېټو په رامنځته کولو سره به د یادو مواردو د عملي لارو چارو له پاره اړین ګامونه پورته سي.

## په تېرو دوو اوونیو کې د هیواد په بېلابېلو ولایتونو کې زیاته اندازه قاچاقي توکي نیول سوي دي

د مالیې وزارت د ګمرکونو لوی ریاست د ګرځنده څارني کارکوونکو په تېرو دوو اونیو کې د هرات، کندهار، نیمروز، فراه او هلمند ولایتونو په بېلابېلو سیمو کې په زیاته اندازه قاچاقي توکي نیولي دي، چې قاچاق کوونکو غوښتل له ګمرکي محصول پرته ئې په قاچاقي ډول افغانستان ته راوړي.



په نیول سویو توکو کې (۲۷۸۲) کیلو ګرامه چاکلېټ، (۱۱۵۷) کیلو ګرامه انساني طبي درمل، (۵۵۰) کیلو ګرامه زراعتي درمل، (۶۸۲۳) کیلو ګرامه مالګه، (۷۱۴) کیلو ګرامه پنیر، (۱۷۵۰) کیلو ګرامه د وچې مېوې او رول پلاسټیک، (۴۳۶) کیلو ګرامه شامپو، (۲۱۰) کیلو ګرامه وچې شیدې، (۲۷۸۳) کیلو ګرامه رخت، (۶۵۰) کیلو ګرامه ملایي، (۳۳۰) کیلو ګرامه هګۍ، (۱۰۴۳) کیلو ګرامه پاکټي شیدې، (۴۳۲۰) کیلو ګرامه د دېګ مساله، (۳۷۵) کیلو ګرامه د ګازرو تخم، (۸۸) کیلو ګرامه نوې البسه، (۴۰) کیلو ګرامه د مخ کریم، (۳۷۵) کیلو ګرامه اچار، (۴۰۰) کیلو ګرامه خرما، (۳۰) کیلو ګرامه صابون او (۱۰) کیلو ګرامه مکروني شامل دي.

همدا شان د اسلام کلا سرحدي ګمرک کارکوونکو هم د (۷۵) ځیرکو مبایلونو د قاچاق مخنیوی کړی دئ.

نیول سوي توکي او تورن کسان د نورو اجراآتو له پاره اړوندو ګمرکونو ته سپارل سوي دي.

## د مالیې وزارت د شکایتونو اورېدو آمریت (۱۹) شکایتونو ته رسېدنه کړې ده

د مالیې وزارت د کورنۍ پلټنې لوی ریاست د شکایتونو اورېدو آمریت د دغه وزارت اړوند ټولو شکایتونو؛ لکه: فساد، کم کاري، کار ځنډوني او د یو شمېر مسئولینو ناسم چلند ته د رسېدنې مسئولیت په غاړه لري او ترلاسه سویو شکایتونو ته له ځنډ پرته رسېدنه کوي. دغه آمریت د روان (۱۴۰۴) کال وږي (سنبلې) میاشتې له پیل څخه د دغې میاشتې تر پایه پورې په ټوله کې (۲۳) شکایتونه ترلاسه کړي او اورېدلي دي، چې له دې ډلې څخه (۱۹) شکایتونو ته رسېدنه سوې، (۳) تر کار لاندې دي او (۱) شکایت د کافي معلوماتو او شکایت کوونکو له لوري د اثباتیه اسنادو د نشتون له امله د دغې اداري لخوا بې بنسټه ګڼل سوی دئ.

له دې ډلې (۱۴) شکایتونه د وټس اپ له لارې، (۸) شکایتونه په حضوري بڼه او (۱) شکایت د برېښنالیک له لارې له دې آمریت سره شریک سوي دي، چې یاد شکایتونه د املاکو، تدارکاتو، مالي او منفکې په برخو کې ول، چې د دغه آمریت له لوري پر وخت رسېدنه ورته سوې ده.

د یادونې وړ ده، چې ټول هیوادوال کولای سي، چې د مالیې وزارت د بېلابېلو څانګو په ځانګړې توګه د عوایدي سرچینو او د ګومارنې په برخه کې د اصلاحاتو په تړاو خپل شکایتونه، وړاندیزونه او نظریات د برېښنالیک، وټس اپ، ټلیفون، په حضوري بڼه او د شکایتونو د صندوق له لارې له دغه آمریت سره شریک کړي، چې د شکایتونو د اورېدو آمریت به له طبقه بندۍ وروسته دغو شکایتونو ته په شفاف او ټاکلي وخت رسېدنه وکړي.

د اړیکو شمېرې: ۰۲۰۲۹۲۴۲۳۳ /۰۲۰۲۹۲۴۱۹۰

وټس اپ نمبر: ۰۷۴۵۷۶۵۷۵۶

برېښنالیک: Officialcomplaints@mof.gov.af

## ریاست دعوت و ارشاد وزارت مالیه از کارمندان این وزارت امتحان عقیدتی اخذ نمود

بر اساس حکم مقام وزارت امربالمعروف و نهی عن المنکر و ریاست عمومی دعوت و ارشاد وزارت مالیه از کارمندان این وزارت مطابق به نصاب تعلیمی این وزارت امتحان اخذ نمود.

در این امتحان تحریری که در مسجد وزارت مالیه اخذ گردید بیش از (۱۰۰۰) نفر متشکل (۵ گروپ) درسی (عبدالله ابن عباس (رض)، عبدالله ابن عمر (رض)، عبدالله ابن مسعود (رض)، عبدالله ابن زبیر (رض) و معاویه (رض) اشتراک کرده بودند.

هدف از امتحان اطاعت از اوامر اُمرا و تشویق کارمندان به امور دینی وعملی کردن قوانین الهی بوده تا با غنامندی فکری و عقیدتی از تهاجم فرهنگی بیگانگان جلوگیری کنند.

مسئولین ریاست دعوت او ارشاد که از پروسه امتحان نظارت می کردند از کارمندان و بخاطر حاضر شدن به جماعت، دروس عقیدتی و دینی و آراسته کردن سیرت و صورت شان مطابق به شریعت اسلامی اظهار قدردانی نموده یاد آوری نمودند و نیز یاد آوری نمودند که به کسانی که بالاترین نمره را اخذ کرده باشند، بخاطر تشویق هرچه بیشتر شان تحایفی نیز اهداء خواهند نمود.

## د پکتیا ولایت د ډنډ پټان په ګمرک کې یو باب جومات جوړ او د لمونځ کوونکو په پر مخ پرانېستل سو

د مالیې وزارت د ګمرکونو لوی ریاست د پکتیا ولایت د ډنډ پټان په ګمرک کې د (۸،۳) میلیونه افغانیو په ارزښت یو باب جومات جوړ او د لمونځ کوونکو پر مخ پرانېست.

دغه جومات، چې په دوو پوړونو کې په عصري ډول جوړ سوی په یو وخت کې د (۶۷۰) لمونځ کوونکو د ځایېدو ظرفیت لري او ترڅنګ ئې د اوداسه له پاره مجهز ځای او نور اړین امکانات هم لري.

د یادولو وړ ده، چې د یاد جومات د جوړېدو بودیجه د مالیې وزارت له پراختیایي بودیجې څخه ورکول سوې او چارې ئې د یو افغاني شرکت له لوري بشپړې سوې دي.



## د ګمرکونو لوی ریاست اداري ناسته وسوه



د ګمرکونو لوی رئیس الحاج مولوي محمد حامد احمد په مشرۍ د مالیې وزارت د ګمرکونو لوی ریاست د (۱۴۰۴هـ.ل) کال نهمه اداري ناسته په دغه ریاست کې وسوه.

د ناستې ګډونوال د ګمرکونو لوی ریاست تخنیکي او عملیاتي مرستیالان، رئیسان او یو شمېر آمرین ول.

ګډونوالو د صادراتي، وارداتي او ټرانزیټي توکو په ګمرکي طی مراحلو کې پر شته ستونزو او حل لارو، د یو شمېر سوداګریزو شرکتونو او صنعتکارانو د غوښتنو او ستونزو پر حلولو، د یاد ریاست د مرکزي او ولایتي ادارو د ورځنیو چارو په لا ښه کولو، په ولایتي ګمرکونو کې د یو شمېر پراختیایي پروژو پر پلي کولو او یو شمېر نورو موضوعاتو خبري وکړې او لازم تصامیم ئې ونیول.

## د کیفیت کنټرول مسلکي کولو روزنیز پروګرام فارغانو ته تصدیق پاڼې ورکول سوې

د مالیې وزارت د کارکوونکو چارو ریاست د بندرونو د کیفیت کنټرول ریاست کارکوونکو ته، چې د کیفیت کنټرول مسلکي کولو له پروګرام څخه فارغ سوي ول د یو لړ مراسمو په ترڅ کې تصدیق پاڼې ووېشلې.

په دې مراسمو کې د کیفیت کنټرول رئیس قاري محمد ابراهیم خلیل، د روزنې او ظرفیت لوړولو آمر مفتي عبدالوهاب عابد او یو شمېر نورو مسئولینو ګډون کړی وو.

د روزنې او ظرفیت لوړولو آمر وویل، چې له شوونکو څخه د دوی د صادقانه تدریس او د عوایدو او ګمرکونو ملي اکاډمۍ له ریاست څخه د اسانتیاوو د برابرولو له کبله مننه کوو او ګډونوالو ته ئې وویل، چې تاسو په ولایتونو کې د مالیې وزارت استازي یاست. هڅه وکړئ هغه پوهه او مهارتونه چې تاسو ترلاسه کړي خلکو ته د غوره خدماتو په وړاندي کولو او د بې کیفیته توکو په مخنیوي کې وکاروئ.

د کیفیت کنټرول رئیس وویل، چې تاسو د اسلامي امارت د استازو په توګه خپل مسئولیت په ښه توګه ترسره او د معتبرو معیارونو په کارولو سره د نقلیه وسایطو، چاپېریال او د خلکو د روغتیا له پاره د بدو پایلو مخنیوی وکړئ. دا نه یوازې د کیفیت کنټرول یو دقیق نظام رامنځته کوي؛ بلکې د مصرف کوونکو ملاتړ او د بیت المال ساتنه هم له ځان سره لري.

په پای کې له روزنیز پروګرام څخه فارغ سویو کسانو ته تصدیق پاڼې ووېشل سوې او مراسم د خیر په دعا سره پای ورسېدل.

SHTAMANI
اوونیزه

# Excerpt from Toward True AGI — the Future of the Global Economy and Humanity with Super intelligence



sayeed razmenda

Part 1

**Economic Futures with super intelligence**

Super intelligence will be an economic shockwave. Treated as a general-purpose technology that compresses cognition, discovery, and coordination, its consequences will extend far beyond typical automation cycles. The following analysis explores both the opportunities and the risks:

**Macroeconomic Impacts and Productivity Dynamics**

Productivity surge: Automated research, accelerated software creation, and optimized logistics could drive unprecedented total factor productivity (TFP) growth. Unlike past innovations such as electrification or ICT, super intelligence may unlock scientific bottlenecks in materials, energy, and biosciences, creating step-changes in growth.

Growth regimes: Two paths are plausible: (1) sustained but bounded growth if compute, energy, and safety constraints limit deployment; (2) near-hyperbolic bursts in sectors where algorithmic breakthroughs occur, such as drug discovery or clean energy.

Price effects: Automation of high-skill services (law, medicine, and engineering) will compress costs, creating deflationary pressure in knowledge industries while raising demand for scarce physical inputs like compute, energy, and rare materials.




**Sectorial Shifts and Value Creation**

Science and pharma: Automated hypothesis generation and simulation shorten drug development cycles, increase candidate throughput, and reduce clinical failure rates.

Software and platforms: End-to-end code synthesis commoditizes routine development, shifting value toward integration, governance, and verification.

Manufacturing and logistics: AI-optimized planning reduces waste and defects, enabling "lights-out" factories and autonomous supply chains.

Energy and climate: Novel materials and optimized grid control enhance efficiency, but large-scale training runs intensify electricity demand unless paired with sustainable standards.

**Labor Markets, Wages, and Displacement**

Exposure gradient: Cognitive service roles—legal analysis, accounting, marketing, translation, diagnostics—are highly exposed. Physical and interpersonal roles (construction, primary care, education) remain more resilient.

Wage polarization: A "barbell" pattern emerges: elite integrators and compute owners capture outsized rents, while many mid-skill roles compress. New high-wage niches appear in alignment, auditing, and assurance.

Transitions and retraining: Traditional re-skilling will not suffice. Policies must emphasize task redesign and human-AI collaboration. Without support, unemployment and regional disparities will rise.

**Capital Concentration and Compute Ownership**

Compute oligopoly risk: Frontier-capable clusters and energy contracts create natural barriers to entry. Without intervention, a handful of actors could gate keep capability, and pricing.

Data supremacy: Proprietary, high-quality datasets (scientific corpora, clinical records, industrial telemetry) become critical moats. Public data trusts and portability mandates are needed to prevent lock-in.

Financialization of models: Model IP and weights may become tradable assets, creating licensing markets and systemic risks if valuations outpace real utility.

Inequality, Access, and Global Development

Inequality spiral: Returns to capital and scarce inputs rise relative to labor, pushing inequality upward unless redistribution or universal access mechanisms are implemented.

Global divergence: Nations with strong compute infrastructure accelerate, while others risk dependency on foreign APIs. Development policy must prioritize sovereign compute and digital public infrastructure.

Access models: Public-option AI services—audited and capability-bounded—can reduce exclusion. Without them, capability stratification hardens along corporate and national lines.

…



# اعلانات داوطلبی

## اعلان داوطلبی

وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت مینماید تا در داوطلبی پروژه حفر یک حلقه چاه آب وتجهیزاد مورد نیاز در گمرک کابل دارای نمبر تشخیصه NCB/W/۱٤۰٤/MOF ۲٤۵۹-که به روش داوطلبی باز داخلی صورت میگیرد اشتراک نموده و شرطنامه را به لسان دری وپشتو از آدرس ذیل مطابق شرایط شرطنامه، قانون و طرزالعمل تدارکات عامه اجراء میگردد بدست آرند.

تاریخ جلسه قبل از داوطلبی: ۱۲/ میزان/۱٤۰٤ ساعت: ۱۰:۰۰ قبل از ظهر

تاریخ مشخص آفرگشایی: ۲۲/ میزان/۱٤۰٤ ساعت ۱۰:۰۰ قبل ازظهر

مکان: آدرس: پشتونستان وات- وزارت مالیه- کابل- افغانستان منزل و شماره اطاق: منزل دوم تعمیر معینیت اداری، شعبه آفرگشایی

تضمین آفر مبلغ: {۲۰۰۰۰ بیست هزار افغانی } بوده و صرف تضمین بانکی قابل قبول میباشد

آدرس: سایت رسمی اداره تدارکات ملی (https://tenders.ageops.af)،

ریاست محترم عمومی اداره امور ا.ا.ا

شماره تماس دفتر: ۰۲۰۲۹۲٤۰٤٦

آفرهای دیر رسیده و انترنتی پذیرفته نمیشود

## د داوطلبۍ اعلان

د مالیې وزارت د امارتي املاکو لوی ریاست غواړي، چې د کابل ښار پنځمې ناحیې اړوند (۲) بابه دوکانونه په سربسته ډول په جلا جلا توګه داوطلبۍ ته د یوه کال مودې له پاره وسپاري.

۱- د کابل ښار پینځمي ناحیې اړوند کوټه‌ي سنګي سیمه نظیف مارکېټ کي یو باب (A۱۹)نمبر دوکان، چې مساحت ئې ۱۳,٦ متر مربع او میاشتنی ابتدایي کرایه ئې (٦۹۳۰) افغانۍ ده.

۲- د کابل ښار پینځمي ناحیې اړوند کوټه‌ی سنګي سیمه نظیف مارکېټ کي یو باب (A ۱۰۷-۱۰٦-۱۰۵)نمبر دوکان، چې مساحت ئې ۳۳,۳ متر مربع او میاشتنی ابتدایي کرایه ئې (۷۵۰۰) افغانۍ ده.

کوردینات(جی.پی.اس نمبر) ٦۹,۱۱۷٤٦ ۳٤,۵۱۵۲۷۲۲

هغه حقیقي او حکمي اشخاص، چي غواړي پورته ذکر سوي ملکیتونه کرایه کړي، کولای سي خپل غوښتنلیکونه د ۱٤۰٤ میزان تر ۱۹ نېټې پوري د امارتي املاکو لوی ریاست ته چي د سینماپامیر ۱٤ پوړیزي ودانی په څلورم پوړ کي موقعیت لري وسپاري او شرطپاڼه ترلاسه کړي.

پته: د سینما پامیر (۱۴) پوړیزي ودانی (۵) پوړ د مرکزي تړونونو د ارزوني لوی مدیریت.

د اړیکو شمېرې: ۰۲۰۲۹۲٤٦۰۷-۰۲۰۲۹۲٤٦۲٤

د داوطلبۍ ټاکلي نېټه: ۲۰/میزان/۱۴۰۴ د سهار ۱۰:۰۰ بجې ترسره کېږي.

## د داوطلبۍ خبرتیا

د مالیې وزارت د امارتي املاکو لوی ریاست د کابل ښار لومړۍ ناحیې اړوند د سینما پامیر ۱۴ پوړیزي ودانۍ سویل لور لومړي پوړ لاندي دوکانونه د دوه کالو له پاره په جلا - جلا توګه د سربسته آفر په توګه داوطلبۍ ته سپاري.

۱- د سینما پامیر ۱۴ پوړیزي ودانۍ سویل لور لومړي پوړ کي یو باب (۹) نمبر دوکان چي (۱,٦۷) متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۳۹٦۷) افغانۍ ده.

۲- د سینما پامیر ۱۴ پوړیزي ودانۍ سویل لور لومړي پوړ کي یو باب (۱۰) نمبر دوکان چي (٦,۲۰) متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۲۰۳۰۵) افغانۍ ده.

۳- د سینما پامیر ۱۴ پوړیزي ودانۍ سویل لور لومړي پوړ کي یو باب (۱۱) نمبر دوکان چي (۲,۱۲) متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۵۰۳۵) افغانۍ ده.

٤- د سینما پامیر ۱۴ پوړیزي ودانۍ سویل لور لومړي پوړ کي یو باب (۱۲) نمبر دوکان چي (۲,۱۲) متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۵۰۳۵) افغانۍ ده.

۵- د سینما پامیر ۱۴ پوړیزي ودانۍ سویل لور لومړي پوړ کي یو باب (۱۳) نمبر دوکان چي (۱,۸٤) متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (٤۳۹۰) افغانۍ ده.

٦- د سینما پامیر ۱۴ پوړیزي ودانۍ سویل لور لومړي پوړ کي یو باب (۱٤) نمبر دوکان چي (۲,۱۰) متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (٤۹۸۸) افغانۍ ده.

۷- د سینما پامیر ۱۴ پوړیزي ودانۍ سویل لور لومړي پوړ کي یو باب (۱۵) نمبر دوکان چي (۲,۱۸) متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۵۱۷۸) افغانۍ ده.

کوردینات(جی.پی.اس نمبر) ٦۹,۱۷۲۱۹ ۳٤,۵۱۳٤۲

هغه حقیقي او حکمي اشخاص چي، د پورتنیو جایدادونو غوښتونکي وي، کولای سي، چي خپل غوښتنلیکونه د ۱٤۰٤/ مېزان تر ۱۲مې پوري د امارتي املاکو لوی ریاست ته تسلیم او شرطپاڼه ترلاسه کړي.

پته: د سینما پامیر (۱۴) پوړیزي ودانۍ (۵) پوړ د مرکزي تړونونو د ارزوني لوی مدیریت.

د اړیکو شمېرې: ۰۲۰۲۹۲٤٦۰۷-۰۲۰۲۹۲٤٦۲٤

د داوطلبۍ ټاکلي نېټه: د مېزان ۱٤ /۱٤۰٤ د سهار ۱۰:۰۰ بجې ترسره کېږي.

## اعلان داوطلبی

ریاست عمومی املاک امارتي وزارت مالیه چهارجایداد واقع ناحیه اول و نهم شهر کابل را به شکل آفر سربسته طور جداگانه به اعلان داوطلبی می سپارد.

۱.یکباب دوکان نمبر ۱٦ بمساحت( ۱۸,۸۱ ) مترمربع واقع مدینه مارکیت مربوط ناحیه اول شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ(۷۰۰۰۰) افغانی.

۲.دوکان نمبر ۵۱ بمساحت۹,۱۲مترمربع واقع مدینه مارکیت مربوط ناحیه اول شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ(۱۰۰۰۰۰) افغانی.

۳.دوکان نمبر ۵۲ بمساحت۹,۱۲ مترمربع واقع مدینه مارکیت مربوط ناحیه اول شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ(۱۲۰۰۰۰) افغانی.

کوردینات(جی.پی.اس نمبر) ٦۹,۱۷۷۲٤ ۳٤,۵۱۷٤۱

٤.موازی ٦۲۰ مترمربع زمین پشمینه بافی واقع جوار سرك کابل جلال آباد پکتیاکوت مربوط ناحیه نهم شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ( ۱۳۱۰۰ ) افغانی.

کوردینات(جی.پی.اس نمبر) ٦۹,۲۸۵٤٤ ۳٤,۵٤۳۷۹

اشخاص حقیقی وحکمی که خواهان به کرایه گرفتن دوکان های فوق باشند میتوانند در خواست های شان را از تاریخ ۲/ میزان / ۱۴۰۴ الی ۲۲ / میزان/ ۱۴۰۴) به مدت (۲۱) روز به ریاست عمومی املاك امارتي واقع منزل چهارم تعمیر ۱٤ منزله سینمای پامیر تسلیم نموده و شرطنامه را اخذ نمایند.

آدرس :سینما پامیرتعمیر۱۴منزله ،منزل۵، مدیریت عمومی ارزیابی قرار دادهای مرکز. شماره تماس: ۰۲۰۲۹۲٤٦۰۷-۰۲۰۲۹۲٤٦۲٤) تاریخ مجلس داوطلبی۲۳/ میزان / ۱۴۰۴ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر برگزار میگرد.



شتمني
SHTAMANI
اوونيزه

زموږ ماليه، زموږ هيواد، زموږ راتلونکی

د امتياز خښتن: د ماليې وزارت
مسئول مدير: احمد ولي حقمل
مرستيال: شمس الدين عاطف
د کتنپلاوي تر نظر لاندې

ويبسايټ: mof.gov.af
اېکسپاڼه: Afghanistan mof
يوټيوب: afghanistan mof
شمېره : ۰۲۰۲۹۲٤٤٤۰(+)

ربيع الثاني ٥-١٤٤٧ل س | د تلي ٥-١٤٠٤ل ل | د سپتمبر ۲۷-۲۰۲۵ز | پنځم کال | ۱۵۰ گڼه | ٤ مخيزه



# Afghanistan's Exports Soar by 13.5%, Transits Post 24.5% Rise - YoY Evaluation




Due to the facilities provided by MoF at Afghanistan's customs, there has been a significant increase in the level of exports and foreign transit from the country's customs in the first five months of the current FY1404 (Afghan Calendar) based on YoY - compared to the same period last year. In the first five months of FY1403, 43,115 shipments were exported, which in the first five months of the current FY1404 were 48,928 shipments, marking a 13.5% YoY increase in the level of exports compared to last year. Also, in the field of foreign transit, in the first five months of the current FY1404, 13,188 shipments were transited from Afghanistan, which in the first five months of last year reached 10,601 shipments, also marking a 24.5% year-on-year increase in the level of foreign transit compared to the same period last year. Notably, the largest exports were to Pakistan, India, Kazakhstan, UAE, Uzbekistan and Turkey; and Pakistan, Uzbekistan, Turkmenistan, Tajikistan and Iran saw Afghanistan as transit hub.

# Customs Affairs Surge in Progress by 13% in Asad of Current FY1404



The technical evaluation meeting of the activities carried out in the customs in Asad of the current year 1404 of the Afghan calendar (equivalent to 23/ Jul/ - Aug/ 22/ 2025) was held online and in person under the chairmanship of the Director General of Customs of MoF, Maulawi Mohammad Hamid Ahmad. In this meeting, a comprehensive report on the activities accomplished in the customs in the month of Asad of the current year, 1404. During this period, complete information was provided on the collection of revenues, trade conducted at Afghanistan's customs, the customs value of imported goods, and the number and registered weight of commercial shipments, which showed a positive increase of 12.8% in customs affairs compared to the same period last year. Likewise, in order to further improve matters, the problems and suggestions of provincial customs officials were heard, and the authority assured of removing the obstacles.




# ترکمنستان او افغانستان د سوداګرۍ د نویو فرصتونو په تلاښ کې دي



د اذربايجان ټرينډ خبري اژانس - Trend په يوه تازه راپور کې په کابل کې د ترکمنستان سفير، ښاغلي خواجه اُووېزوف د افغانستان د سوداګرۍ او پانګوني خوني - ACCI له رئيس ښاغلي سيد محمد کريم هاشمي سره د ليدلو په تړاو سوداګريزو اړيکو ته کتنه کړې ده. اذري سفير خواجه اُووېزوف له سيد محمد اکرم سره د دواړو هيوادونو ترمنځ د سوداګريزو اړيکو د پياوړتيا په تړاو بحث کړی دئ. دوی د توکو د ودې او د سوداګرۍ له پاره د بازار فرصتونو او توکو د ترويج د پراخولو له پاره د ګډو نندارتونو د جوړولو ارزښت روښانه کړ. ورپسې ئې د دواړو هيوادونو په تړاو زياته کړې ده، چې دوی د انرژۍ، سوداګرۍ، حمل و نقل؛ د «ترکمن ګاز» او برېښنا پروژو ته په لومړيتوب ورکولو سره همکارۍ ته وده ورکوي. اذري اژانس د افغانستان او ترکمنستان تر منځ يوې بلې بنسټيزي خبري ته هم اشاره کوي، چې هغه د برېښنا د نوي ځانګې او اُورګاډي له اتصال څخه عبارت ده، چې دواړه ملکونه ئې د پراختيا هڅه کوي. ياد خبري اژانس د تاپي ــ ترکمنستان، افغانستان، پاکستان، هيندوستان او ټاپ پروژو په تړاو هم راپور خپور کړی دئ. دوهم راپور ليکي، چې په اسلام اباد کې د ترکمنو سفير، عطاجان مولاموف په پاکستان کې د اروپايي ټولنې له استازي ريمونډس کروبليس سره د انرژۍ پر مهمو سيمه ييزو نوښتونو بحث وکړ او د تاپي او ټاپ پروژې ئې د بحث ځانګړې برخه وه.

## د شکايتونو اورېدلو آمريت ستاسو ستونزو او شکايتونو ته رسېدنه کوي

هر هيوادوال، چې د ماليې وزارت د اړوند چارو په تړاو ستونزه يا شکايت ولري، کولای سي، چې د دغه وزارت د شکايتونو اورېدلو له آمريت سره ئې په حضوري بڼه او يا د لاندې ادرسونو له لارې شريک کړي.

ټيليفون او وټس اپ شمېرې: ۰۲۰۲۹۲٤۲۳۳ / ۰۲۰۲۹۲٤۱۹۰ / ۰۷٤٥۷٦٥۷٥٦ (+۹۳)

برېښناليک: officialcomplaints@mof.gov.af



## د ماليې وزارت د ګمرکونو لوی رياست تل ستاسو په خدمت کې دئ!

که تاسو د ګمرکونو په هکله هر ډول معلوماتو ته اړتيا لرئ او د کومې ستونزې حل او يا شکايت را رسول غواړئ؛ نو مهرباني وکړئ له موږ سره په لاندې شمېره اړيکه ونيسئ!
اړيکه: ۲۲۱

## رياست عمومی گمرکات وزارت ماليه هميشه در خدمت شماست!

اگر شما در مورد گمرکات به هر نوع معلومات نياز داريد و يا ميخواهيد مشکل تان حل و شکايت تانرا به سمع ما برسانيد، ميتوانيد به شماره ذيل با ما در تماس شويد!
تماس: ۲۲۱

شتمني اوونيزه د ټولو قدرمنو لوستونکو د مقالو منونکې ده؛ مقالې بايد اقتصادي او د ماليې وزارت له اصولو سره سمې وي. له ټولو درنو همکارانو او د هيواد له ليکوالو څخه هيله کوو، چې خپلې مقالې د دغه برېښناليک tamas@mof.gov.af له لارې موږ ته راواستوي.